پوهندوی دوکتور سیدحسام (مل):

# په افغانستان کی جنګ سالاران او بډی اخیستونکی هیواد تباهی خواته وړي

په افغانستان کی جنګ سالاران کوم چی ددولت په دری ګونو څانګو کی لوړ مقامونه تر لاسه کړی دا نه چی یواځی هغوی له داخلی او خارجی اړو منابعو څخه بډی تر لاسه کوی، بلکه ترخپل ولکی لاندی چوکی اومقامونه په اجاره او سرقلفی ورکوی اود بډی په پیسوسره ځانته په شیرپور او دوبی کی قصرونه جوړوی او د هفتی په رخصتیو ورځوکی د خوش ګذرانی د پاره دوبی اویا نورو ځایونو ته ځی.

افغانستان لکه دسهیلی آسیا او د افریقی دځنو هیوادو په څیر دجنګ سالارانو او ټوپکمارانو پواسطه سره کوم چی په موجوده دولت کی په لوړو چوکیو کی دامریکا دمتحده ایالاتو اودهغه دمتحد و هیوادونو دمټ په زور سره ډډه لګولی دی دبډی اود فساد په لوی مرکز تبدیل شوی او دهغه طبعی شتمنی او فرهنګی آبدات هم د چپاول اولوټماری سره مخامخ شوی. کوم چی د هغه سره جوخته د مخدره مواد و قاچاق او تروریزم دهری ورځی په تیریدو سره هیواد او هیوادوال دنیستی کندی ته نژدی کړی، اوپه هیواد کی د قانونیت، عدالت، مساوات، مصونیت او د دموکراسی لمن ټول کړی اولا پسی یی ټولوی، په هیواد کی د دموکراسی اودپرمختګ نښی او نښانی هیڅ په سترګو نه لیدل کیږی لکه چی دملګرو ملتونو پخوانی استاذی کی آیدی په کابل کی د اګست د میاشتی په (۲۸) کال (۲۰۰۸) کی ویلی وه: (بډه اوفساد په افغانستان کی همه ګیر (اندیمیک) شوی کوم چی د هغه ناوړی اغیزی په نا اندوله بڼه پر نادارو اوبی وزلو خلکو باندی په خلاصو سترګو لیدل کیږی، خلک له دولت او حکومتیانو څخه لری ساتلی او زمونږ دهڅی اواند او دسولی د ټیکاو اود افغانستان د پرمختګ په مخ کی ستر خنډ را مینځ ته کړی دی.)

ددی دپاره چی ددی جنګ سالارانو پر فساد او پر بډی اخیستو باندی په علمی بڼه پوه شو چی دوی ولی بډی اخلی، نو لازم ګڼل کیږی چی دفساد په تعریف اودهغه دعواملو اود بډی اود فساد په ډولونو، اسبابو او دهیواد د پرمختګ په مخ له هغه خنډونو څخه یادونه وکړو کوم چی دفساد او د بډی اخیستو له امله مینځ ته راځی.

**فساد یعنی څه؟** فساد ددولتی موقف دپکاروړلو سره دخپل خصوصی ګټی دتر لاسه کول تعریف شوی دی. یا په بل عبارت: فساد یعنی دولتی مقام، چوکی، رتبه، صلاحیت، نفوذ دخپل شخصی ګټی اولاس ته راوړنی دپاره له پکار وړلو څخه عبارت دی. کوم چی دفساد رفتار اویا دهغه دکړنی دپکار وړلو نمونی اومثا لونه په دی ډول دی:

الف: بډی،

ب: له خپل مقام څخه غیر مشروع ګټه اخیستنه،

ت: درغلی او تقلب،

ث: رشوت یا اختلاس،

ج: قوم پرستی،

چ: خپل ملګری اودوستان د دولت په لوړو مقامونو نومول او ټاکل،
ح: له عامه بودجې، ملکیت اوشتمنی څخه شخصی ګټی تر لاسه کول،
خ: او د نامعلوم نفوذ اولاس بری لرل دی،

**دفساد د راپیدا کید و زمینه او اسباب:**

دیوهیواد په لوړ پوړو چارواکو کی د فساد د را پیدا کیدو عمده دلیلونه په دی ډول دی:

– په ورځنی دولتی اجراتو کی دشفافیت اویا د ریښتنولی کمښت اویا هم هیڅ نشتوالی.
– د خپل ورځنی کارونو داجراتو څخه د نه مسؤولیت احساس لرل او د قانون په وړاندی بی پروایی اوځواب نه ورکول. پخپل کارونو کی بی ثباتی، بی دسپلنی او بی انضباطی.
- د حقوقی ادارو اود نهادونو سستی او کمزورتیا لکه په قضایی، څارنوالی اونورو اړینو برخو اوسیستمونو کی عمده عوامل دی چی دفساد د کړنی دپاره په یوه هیواد کی لاری پرانیځی. سربیره له دی چی غیرمشروع اقتصادی فعالیتونه اواجتماعی لګښتونه دفساد سره په ټینګ ارتباط کی لوړیږی دهغه بدی اغیزی او تاوان دهیواد دعایداتو، په ویش، لګښتونو اوپه پانګه اچونه کی تر ددولت په کلنی بودجه کی غورځی کوم چی دعامه خلکو ته نه جبرانونکی تاوان رسوی، لکه چی اوس اوس زمونږ په هیواد کی په خلاصو سترګو لیدل کیږی. دلته د فساد په اړه ددری لاندنی ټکو یادونه ضروری بریښیی:

لمړی: فساد اوس تقریباً جهانی شوی یعنی اوس کم او زیات دنړی په ډیرو هیوادونو او مؤسساتو کی لاره پرانیستی لاکن په بیرته پاتی هیوادونو کی او بیا په ځانګړی ډول زمونږ په ګران هیواد کی له هغه وخته چی دمجاهیدینو دولت مینځ ته راغلی لاپسی پراخه شوی چی اوس دافغانستان ټول خلک پرهغه باندی پوهیږی اوتری باخبر دی.

دوهم: د یو لړ بین المللی تازه څیړونو او تحقیقاتو څخه داسی څرګند شوی چی فساد او بډی اخیستنه په اوس وخت کی زیات په لوړ پوړو چارواکو او ددولت به مرکزی کړیو کی مروج شوی او دغه فساد پیشه ګان اوبډی اخیستونکی حتا تر دی چی بین المللی او ملی میدیا هم تر خپل ولکی لاندی راوستی کوم چی دهغو پرضد خپرونه ونکړی یعنی دهغو خولی هم دسوغاتونو په ورکولو سره خواږه کړی دی.

دریم: ډیرعمده ټکی دا دی چی فساد پخپله دهیواد داقتصادی پلانونو دپلی کولو مخه نیسی اونه پریږدی چی هیواد دنوی کیدو خواته لاړ شی په افغانستان کی د فساد لمن تر (۲۰۰۳) کال پوری چندان پورته شوی نه وه او په تررمی کی بډی اخیستونکی خپل جیبونه او فردی اقتصاد پیاوړی کول، اما وروسته له هغه چی د ملګرو ملتونو د فساد سره په ضد مبارزه کی میثاق لاس لیک کړ، که د یوی خوا د لوړ پوړی مفسدو کارمندانو څیری وپیژندل شو نو دبلی خوا له همغه ورځی نه تر ننه پوری فساد اوبډی اخیستنه ډر معمول شوی او دا ځکه چی خپله جمهور ریس ډیرو بډی اخیستونکی د قانون له منګلو څخه وژغورل، لکه دنمونی په بڼه مخکینی کابل ښاروال. او یا داچی مشهور او سرشناس بډی اخیستونکی یا دځمکو مافیا کوم چی په دولت کی لوړ مقامونو لری دقانون منګلو ته نه سپاری، مثلاً هغو چی په شیر پورکی

ځانته قصرونه جوړ کړل او لاتر اوسه دځمکی پیسی یی نه دی ورکړی یا داچی دعامه خلکو جایدادونه تر خپل ولکی لاندی راوړی او څوک نشته چی له هغو څخه پوشتنی درویجنی وکړی.
نو په دی بنیاد ویلی شو چی: چی دا څوک دی چی په افغانستان کی دفساد، تروریزم، بی ثباتی او دبی قانونی دپاره دسوند مواد برابروی؟ ددی سوال ځواب په یو کلمه خلاصه کیږی؛ هوکی دوی افغانی جنګ سالاران دی، بله پوښتنه چی را پیدا کیږی هغه دادی چی ددوی تر شا څوک ولاړ دی؟ ځواب ساده دی: بین المللی شریکان، دایتلاف قوتونه، بسپنی ورکونکی مؤسسات او دټولو په سر کی بین المللی ښامار یعنی دامریکی دمتحده ایالاتو سردمداران اود والستریت دوکه بازان .